د کارګر فاکټ شیټ

# د کډوالو او پناه غوښتونکو لپاره د Form I-9 په اړه معلومات

هر څوک چې په متحده ایالاتو کې د یو کارګر په صفت دنده پیلوي **Form I-9** بشپړوي، یوه دولتي فورمه ده چې کار ګمارونکي یې ستاسي د هویت تصدیق او کار کولو اجازې لپاره کاروي.

دا فاکټ شیټ تاسي، پناه غوښتونکو او کډوالو (مهاجرو)، سره د Form I-9 بشپړولو او ستاسي د حقونو پېژندلو کې د مرستې لپاره دی. ګمارونکي چې د Form I-9 پروسې په جریان کې ستاسي د تابعیت، کډوالۍ وضعیت یا د ملي اصل پر بنسټ ستاسي پر وړاندې تبعیض کوي ممکن د کډوالۍ او د تابعیت قانون (Immigration and Nationality Act, INA) د یوې برخې څخه سرغړونه کوي. دا د تبعیض ضد قانون په **8 U.S.C § 1324b** کې موندل کیږي.

## د Form I-9 ډکول

**د Form I-9 د Section 1 لپاره، د خپل ځان په اړه معلومات چمتو کړئ.**

- خپل نوم او د ځان په اړه نور معلومات د Form I-9 په Section 1 کې ولیکئ.
    - تاسي ممکن د یو چا څخه د دې برخې په ډکولو کې مرسته وغواړئ.
- تاسي باید یوه بکسه په نښه کړئ چې هغه حالت ښاني چې تاسي ته د کار کولو اجازه درکوي.
    - مهاجرین او پناه غوښتونکي باید د "A noncitizen authorized to work" (کار جواز لرونکي غیراتباع) لپاره څلورمه خانه په نښه کړي. د دې خانې خوا کې د ختمېدو (پای) نېټې لپاره خالي ځای شتون لري.

- دا چې ستاسې د کار کولو جواز نه ختمیږي، د ختمیدو نېټې لپاره ورکړل شوې ځای کې "N/A" (چې معنی یې "د تطبیق وړ نه ده") ولیکئ.

**د Form I-9 Section 2 لپاره، خپل ګمارونکي ته اسناد وښیوئ چې ستاسې هویت او د کار اجازه ښیي.**

- د Form I-9 اسنادو دري لیستونه لري چې تاسې یې د Form I-9 د Section 2 لپاره ښودلی شئ:
  - **List A** (هغه اسناد چې ستاسې هویت او د کار اجازه ښیي)
  - **List B** (هغه اسناد چې ستاسې هویت ښیي)
  - **List C** (هغه اسناد چې ستاسې د کار اجازه ښیي)

- تاسې باید خپل ګمارونکي ته وښیوئ:
  - یو د List A سند یا
  - د List B یو سند او د List C یو سند یو ځای.

- د اسنادو د لیستونو لاندې **receipts** (درسیدونه) لیست شوي دي. Receipts کونکي د بیلابیلو مودو لپاره د Form I-9 لپاره هم د منلو وړ دي.

**تاسې حق لرئ چې د Form I-9 Lists of Acceptable Documents (د Form I-9 د منل شوو اسنادو لیست) څخه هغه د منولو وړ اسناد غوره کړئ چې غواړئ ښکاره یې کړئ.**

ستاسې ګمارونکی اجازه نلري چې تاسې څخه وغواړي چې د یو کډوال یا پناه غوښتونکي په صفت د خپل حالت پر بنسټ یا ستاسې د ملي اصل پر بنسټ ځانګړي اسناد ښکاره کړئ. **که چیرې یو کارګومارونکی ځانګړي اسناد غواړي شاید هغه په غیرقانوني توګه تبعیض کوي.** د مثال په توګه، که څه هم تاسې ممکن د کار اجازه لیک (Employment Authorization Document, EAD) ولرئ، تاسې کولی شئ پر ځای یې نور اسناد ښکاره کړئ، لکه یوه دولتي پیژندپانه (د List B یو سند) او یو غیر محدود ټولنیز امنیت کارت (د List C یو سند).

**تاسي ممکن د Form I-9 د منلو وړ څو ډوله اسناد ولرئ.**

- تاسي ممکن د Form I-9 لپاره I-94 ښکاره کړئ. یا به تاسي د کورنیو چارو وزارت څخه د I-94 کاغذ ترلاسه کوئ، یا تاسي کولی شئ خپل I-94 د **Customs and Border Protection** (ګمرکونو او سرحدونو د ساتني) وېب پاڼې څخه چاپ کړئ.

- که تاسي یو کډوال یاست، ستاسي **I-94 د List A یو سند لپاره یو رسید دی** چې ستاسي د کار د لومړۍ ورځ څخه تر 90 ورځو پورې د اعتبار وړ دی. د 90 ورځو وروسته، تاسي باید خپل ګمارونکي ته یا یو EAD او یا د**List B** یو سند او یو **غېر محدود ټولنیز امنیت کارت** یو ځای ښکاره کړئ.

- که تاسي یو پناه غوښتونکي یاست، تاسي خپل I-94 **د List C د یو دایمي سند** په توګه کارولی شئ کوم چې د پای (ختمېدو) وخت نلري.

- پناه غوښتونکي او کډوال د EADs لپاره وړ دي. که تاسي پریکړه وکړئ چې د خپل EAD بیاځل نوي کولو لپاره غوښتنه وکړئ او ستاسي غوښتنلیک ستاسي EAD کې ورکړل شوي د پای نیټه پورې وسپارل شي، تاسي کولی شئ د خپل موجود EAD سره کار کولو ته دوام ورکړئ. **ستاسي د EAD د پای (ختمېدو) نېټې څخه وروسته د یوې مودې لپاره** ، تاسي کولی شئ خپل ګمارونکي ته خپله EAD د I-797C رسید خبرتیا (چې ښیي دولت ستاسي غوښتنلیک د نوي EAD لپاره ترلاسه کړی) سره په ښودلو خپل کار ته ادامه ورکړئ. د مدني حقونو څانګې د کډوال او کارګر د حقونو برخې ( Immigrant and Employee Rights Section) ته د EAD اتومات غزولو په اړه نورو معلوماتو لپاره زنګ ووهئ.

- تاسي ممکن وکولی شئ د **ورک شوو، خراب شوو، یا غلا شوو** اسنادو لپاره receipts ښکاره کړئ.

**یو ځل چې تاسي Form I-9 بشپړ کړئ، ستاسي ګمارونکي اجازه لري چې یوازې په محدودو شرایطو کې ستاسي څخه بیا اسناد وغواړي.**

- هغه اصول چې کله یو ګمارونکی کولی شي تاسي څخه اسناد وغواړي په **Handbook for Employers M-274** (د ګمارونکو لپاره لاسي کتاب M-274) کې مطرح شوي.

- که تاسي EAD د Form I-9 لپاره ښودلي وي، ستاسي ګمارونکی به ستاسي د کار جواز بیاځل تاییدولو لپاره ستاسي د EAD پای ته رسیږي پرمهال د یو بل سند د کتلو غوښتنه وکړي. په دغه مرحله کې، تاسي کولی شئ یا د **List A** سند یا د**List C** سند، لکه یو غیر محدود ټولنیز امنیت

کارت، ښکاره کول غوره کړئ. تاسي کولی شئ د یو نوي EAD ښکاره کول غوره کړئ، ولې تاسي ته اړنیه نده.

- که تاسي د Section 2 لپاره د خپل کار د اجازې د ثبوت په توګه یو غیر محدود ټولنیز امنیت کارت ښودلی وي او په Section 1 کې مو د پای (ختمیدو) نېټې لپاره "N/A" لیکلي وي، ستاسي ګمارونکی اجازه نلري چې د تاسي څخه د نورو اسنادو غوښتنه وکړي.

- ګمارونکي چې د ستاسي د پناه غوښتني یا کډوالۍ حالت پر بنسټ یا ستاسي د ملي اصل پر بنسټ د اسنادو غوښتنه کوي پداسي حال کې چې اړتیا یې نه وي نو هغه ممکن د قانون څخه سرغړونه کوي. پدې اړه چې ستاسي ګمارونکی کله اجازه لري چې د نورو اسنادو غوښتنه وکړي د نورو معلوماتو لپاره د کډوال او کاریګر د حقونو برخي ته زنګ ووهئ.

## تاسي پداسې حال کې چې د خپله ټولنیز امنیت شمېرې لپاره انتظار کوئ کار کولی شئ.

- که تاسي یوه دنده ترلاسه کړئ پداسي حال کې چې لا خپل ټولنیز امنیت شمېره نلرئ، د **ټولنیز امنیت اداره** ګمارونکي ته لارښوونه کوي چې کارګران پداسي حال کې چې د خپل ټولنیز امنیت شمېرې لپاره انتظار باسي د کار کولو اجازه لري.

- ستاسي ګمارونکی باید تل تاسي ته ستاسي د هر بشپړ شوي کار لپاره پیسي درکړي، حتی که تاسي لا هم خپل د ټولنیز امنیت شمېرې لپاره انتظار باسئ.

- که تاسي د خپلې دندې تر پیل کولو پورې خپله د ټولنیز امنیت شمېره ونلرئ، د Form I-9 په Section 1 کې د ټولنیز امنیت شمېرې خانه خالي پرېږدئ.

- که ستاسي ګمارونکی E-Verify کاروي، E-Verify ګمارونکي ته لارښوونه کوي چې **د E-Verify قضیې رامنځته کول وځنډوي** تر څو چې تاسي خپل SSN ترلاسه کړئ. که تاسي Form I-9 ډک کړی وي تاسي ممکن د دغه وخت په جریان کې کار وکړئ. **د E-Verify قواعد** په ځانګړي توګه د دې استثنا اجازه ورکوي او ګمارونکو ته د قضیې د جوړولو لپاره لارښووني چمتو کوي. نور معلومات په **e-verify.gov** کې شتون لري.

*په 2023 اګست کې اصلاح شوی*

*(په بل مخ کې دوام لري)*

## زموږ سره اړیکه ونیسئ

- د نورې مرستې لپاره، د کډوال او کارګر د حقونو برخې د **کارګر هاټلاین ته په 1-800-255-7688** یا د اوریدو معیوبیتونو لرونکي خلکو لپاره په 1-800-237-2515 زنګ ووهئ.
  - زموږ لخوا هرډول مرسته وړیا ده. زنګ بې نومی کیدی شي او د ژبې وړیا خدمتونه موجود دي.
- د نورو معلوماتو لپاره، **زموږ ویب سایټ** ته ورشئ
- د تبعیض راپور ورکولو لپاره **justice.gov/crt/filing-charge** ته ورشئ